شهسوار سنگروال ۲۰۲۱/۰۷/۲۸

# افغانان له پارس نه تر هندوستانه

## ۱۹مه برخه

## (د غور سوریان ـ د ملتان لودیان)

## غزنویان

## (افغانستان – پا رس– ماوراءالنهر)

الپتگین د سامانیانو د کورنۍ یو اوښیار ترکي غلام وه، چې د همدې پوهې له مخې نوموړی په شاهي گارد کې په دنده وگمارل شو او بیا وروسته سربېره له دې، چې دی د دوه زرواوه سوه تنو غلامانو مشر وه، د سامانیانو د پوځ سپه سالار (۹۵۹ ز کال) او د شمالي سیمو والي هم وټاکل شو.
د ساماني عبدالمالک له مړیني وروسته چې په (۹۶۰ ز کال) په بخارا کې ومړ، د الپتگین او د عبدالمالک د ورور منصور بن نوح تر مینځ بې باوري، هغه مهال مینځته راغله چې نوموړي غوښته د عبدالمالک زوی پاچا شي. همدا لامل وه چې ده د منصور په وړاندې پاڅون وکړ او غزني (زابلستان) ته راغی.
»الپتگین په ۳۵۱ هـ ۹۶۳ ز کال غزني ته راغی او د زابلستان په یوې واکمني کورنۍ لویک چې څېړونکي یې پښتانه بولي برید وکړ او لاویک یا «انوک» ماته وخوړه او په غزني کې د حکومت بنسټ کېښود.»( ۱ )
الپتگین وروسته له دوه کالو نه ومړ زوی یې اسحق واک ته ورسېد. دی د درې کالو لپاره واکمن وه او له ده وروسته د الپتگین یو اوښیار غلام چې بلکا تگین نومېد د لسو کالو لپاره د دې سیمې حکمران وه. خو کله چې دی په گردېز کې ومړ په خاي یې یو بل غلام پیري تگین وټاکل شو.
د ده د ظلمونو له کبله د گردېز او زابلستان وگړو پاڅون وکړ او بېرته یې د لویکانو د کورنۍ یو شهزاده لویک واک ته ورسوه. په دغه ترڅ کې د الپتگین یو نامتو غلام او زوم سبکتگین واک ته ورسېد او د غزنویانو د ټولواکمنۍ بنسټ یې کېښود. سبکتگین چې نوی مسلمان شوی وه لومړی د الپتگین د لښکر مشر وه او بیا وروسته ۹۷۷ ز کال واک ته ورسېد او زیار یې ووېست چې خپل حکومت ته پراختیا ورکړي.
دی د خپلې اوښیارتیا له مخې پوه شو، چې د غزني، زابلستان، پکتیا او ان تر کندهار او بلوچستان پورې وگړي چې د شمېر له مخې یې واک او ځواک پیاوړی دی هغه افغانان دي. نو ځکه خو یې له یوې مخورې افغانۍ کورنۍ سره خېښي وکړه، چې له امله یې بیا ډېر افغانان په پخپل لښکر کې ونیول.
ده لومړی تر بست او بلوچستان پورې پرمختگ وکړ او بیا د افغانستان ختیځو سیمو ته روان شو. په دغه مهال له کابل نه راواخله تر لغمان او بیا تر سیند، ملتان او کشمیر پورې چې پلازمېنه یې ویهند وه راجه جیپال واکمن وو .
کابلشاهان چې د برهمني مذهب پلویان او پیروان ول، د دوه پېړیو په شاوخوا د مسلمانانو تر گواښ لاندې ول. ولې کله چې دېته اړ شول، کابل پرېږدي نو بیا د اټک پورې غاړې ته واوښتل ، د کابل په ځای یې ویهند خپله پلازمېنه وټاکله.
سبکتگین په لږ وخت کې د نورو واکمنو په پرتله غور او تخارستان هم ونیول او په ۹۹۳ ز کال (۳۸۳ هـ) تر هرات پورې پر مخ لاړ او وروسته د اوسني ایران خاورې ته ننوت او نیشاپور یې هم د غزني د حکومت برخه کړ.
«د حمدالله د گټور کتاب تاریخ گزیده په وینا سبکتگین د زابل د یوه مخور مشر زوم و، نو ځکه یې د پښتنو په مېړانه بست، بلوچستان، زمینداور، بامیان، تخارستان، غور، پروان، لغمان، پېښور او د هېواد نورې سیمې یو د بل پسې ونیولې. (۹۹۱ ز – ۳۸۱ هـ) او هم یې په دغو سیمو کې د اسلام د دین تبلیغ پیل کړ.»(۲)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نورو ډېرو تاریخپوهانو په سر کې عتبي، ابن اثیر ، ابن حوقل او قاضي منهاج السراج ډېر څه سبکتګین د پوهې او زړه ورتیا په اړه لیکلي دي:
«سبکتګین اوښیار، ځیرک، عادل او یو ټینګ مسلمان وه. پخپله وعده ټینګ ولاړ او یو مهربانه شخص وه.» (۳)
نوموړي ترواک لاندې سیمو کې ملي یووا لی ټینګ کړ. په افغانستان، ماوراءالنهر او د ایران په یو شمېر سیمو یې واک ته پراختیا ورکړه او په ۹۹۷ ز کال ومړ.
د سبکتګین له مړیني وروسته د ده مشر زوی غزنوي محمود د نیشاپور حکمران وه، نو ځکه خو د ده کشر ورور اسماعیل په غزني کې پاچا شو .
سلطان محمود له یوه لښکر سره را روان شو او د زابل د خلکو په قوي او ځواکمن ملاتړ یې (د فردوسي په قول د ده مور زابلی پښتنه وه) خپل ناسکه ورور اسماعیل ته ماته ورکړه چې وروسته په زندان کې مړ شو او محمود په ۹۹۸ ز کال پاچا شو .
سلطان محمود د خپل واک د پراختیا په هیله د هېوا څلورو خواوو ته بریدونه وکړل.

## خو راځی چې خبره د سومنات له برید نه پیل کړو :

سلطان په ۱۰۲۴ ز کال سومنات لاندې کړ. خو کله چې ور ننوت، ګوري چې بت پرته له کوم تړاو او استناده ځوړند دی. ټول هک پک شول. وروسته معلومه شوه چې د خونی څلور خواوو ته «آهن روبا یا مقناطیس» داسې په غور سره ځای په ځای شوی وه، چې بت یې غورځېدو ته نه پرېښود.
«د دغو بریدونو پایله دا شوه چې محمود د نګرکوټ د کلا او یو شمېر معبدونو څخه «۷۰» ملیونه درهمه نغدې روپۍ، په زرګونو منه سپین زر، سره زر، ډول ډول مرۍ او قیمتي دبرې... همدا راز له سومناته د شل میلونو دینارو په ارزښت قیمتي څیزونه، د «۵۰» زره دینارو په بیه جواهرات او زینتي شیان، ۲۶ زره دینارو نغدې روپۍ، د «۳۰» زرو دینارو په ارزښت سره زر او سپین زر، ۵۳۰۰ جوړه د شاهانو ډول ډول جامې او په سلګونو نور څیزونه له یادو بریدونو څخه ترلاسه کړل.
له هغې ورځې چې محمود په نیشاپور کې د پلار له مړیني وروسته (چې ۲۷ کلن وه) د پاچاهۍ اعلان وکړ، د ژوند تر پایه ارام کېنناست. له یوې خوا د ورور په وړاندې وجنګېد، تر هغې چې په جوزجان کې بندي کړ. او له بلې خوا د سامانیانو په وړاندې په جګړه کې پرېووت، چې په پای کې د سامانیانو له ماتې وروسته مرو او توس لاندې کړل.
سلطان محمود له هغه وروسته سیستان او غرجستان هم له سیمه ییزو واکمنو نه ونیو. «د سیستان ولایت چې پلازمېنه یې کلاطاق وه له سیمه ییز واکمن، له امیر خلف بن احمد څخه ونیو او دا هغه ځواکمن سیستانی وه چې په اومه پېړۍ کې عربو ځواکونو له سیمه ییز واکمن ایران بن رستم بن ازاد بن بختیار څخه نیولې وه.»(۴)
سلطان د بست له لارې په ۱۰۱۲ ز کال (۴۰۳ هـ) چې کله په غورجستان برید وکړ د غور واکمن امیر محمد سوري وه چې له جګړې وروسته بندي کړی شو.
سلطان چې دغه سیمه ونیوله نو بیا یې ډېر افغانان په خپل لښکر کې ونیول او همدا راز د سلیمان د غرو شاوخوا سیمې افغانان یې هم د ځان تابع کړل او بیا یې خپل پوځ په دغو افغان ځوانانو لا پیاوړی کړ. دا لړۍ ان د هېواد ختیځو سیمو ته وغځېده او د سپین غره له لمنو یې هم افغانان راټول کړل او د پوځ لیکې یې پرې ځواکمنې کړې .
د سلطان د دربار منشي د العتبي Al – utbi د وینا له مخې د سلطان محمود په لښکر کې ترکان، افغانان، تاجکان، او هغه افغانان په ځانګړې ډول غلجیان چې په غورستان، خراسان او سیستان کې ودان وه د یو شمېر هېواد مېشتو هندوانو په ګډون دغه قومونه شامل وه.
سراولف کارو په پټانز نومي اثر کې د العتبي له انده کښلي اودهغه دخبرو پخلی کوي :
«د پوځ د پراختیا لپاره یې افغانان او غلجیان را ټول کړل او په زرګونو تنه یې دېته وګمارل چې هندو شاهي پاچا جیپال ته په لغمان او ننګرهار کې ماتې ورکړي.»( ۵)
یو شمېر څېړونکو غلجیان د لودیانو مترادف ګڼلي دي. البیروني هم ویلي دي چې دا یو جنګیالی ټبر وه، چې په لسمه پېړۍ کې له کابل نه نیولې ان تر پېښوره پورې دا ټوله سیمه د هند تر پولو پورې د دوی د استوګنې پراخه سیمه وه.
د سلطان محمود په واکمنۍ کې په ټولنیز شکل مسلمانان شول
کېږو د غزنوي محمود د فتوحاتو په اړه څرګنده کړي، ده چې په غرب کې پارس ونیو، په شمال کې د بلخ شاوخوا سیمې او په ختیځ کې پېښور، ګندهارا تر پنجاب پورې ځمکه ونیوله.
ښاغلي د کېږو یادونه د سلطان محمود د واکمنۍ لومړني کلونه وي. ولې د واک په وروستیو کې نوموړي مشهد او نیشاپور هم ونیو. د امو رود پورې غاړې د ماوراءالنهر یو شمېر سیمې هم لاندې کړې او د بخارا واکمنې کورنۍ «قره خاني» حکمرانانو ته یې ماته ورکړه. بیا هم سراولف کېږو: «د غزنوي محمود حیرانوونکو فتوحات ځکه د پام وړ دي چې د ده د حکومت پلازمېنه د پښتنو د سیمو په مینځ کې پرته وه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ده له پښتنو سره نېغه په نېغه اړيکه لرله. کله چې محمود بلخ ونيو، همدغه پښتانه ورسره ول او د هند په فتوحاتو کې هم پښتانه ورسره ملګري وه...»( ۶)
د سبکتګين او سلطان محمود د واکمنۍ په مهال نه يوازې يوه لويه ټولواکمنۍ، د نړۍ په دغه سيمه کې مينځته راغله، بلکې غزنوي دربار د زينتونو، د ښکلو او رنګينو ډاليو ټاټوبی و.
غزنوي پلازمېنې ته د افغانستان، ايران، ماوراءالنهر او د هندوستان له بېلابېلو سيمو نه، له مالياتو سربېره د ده واليانو او پلويانو ډېرې داسې تحفې چې ساری يې په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې لږ ليدل کېده، د سلطان دربار ته راوړل کېدې .
د بد مرغۍ خبره خو دا وه، چې دا هر څه چې دربار ته راتلل اميرانو دا خپل مال ګاڼه. د خوړلو، څښلو، ښلو د راکړې او ورکړې حساب معلوم نه وه .
د بيهقي د څرګندونو له مخې، چې پخپلو بېلابېلو پاڼو کې راغلي دي، د څو بېلګو يادونه کوو:
د غزنوي دربار د مالياتي يو تن وزير «بوسعيد» نومېده، سربېره له دې چې د اوږد مهال لپاره وزير وه او ډېر شته يې لرل. يو وخت سلطان ورته (۱۶) شپاړس ميلونه درهمه باقيات ور وبښل.
حال دا چې سلطان محمود د مالياتي يو بل تن وزير چې ابوالعباس فضل بن احمد الاسفرايني نومېده د يوه غلام په سر وواژه، چې د کيسې لنډيز يې داسې دی :
وزير ته يو چا وويل په ترکستان کې يو ډېر ښکلی د ښاپېرۍ په شان يو پيمخی هلک دی. نوموړي يو څوک ورولېږه او په ډېرو پيسو يې را ونيو .
وزير دغه غلام له سلطان نه پټ ځکه ساتلی وه، چې هغه يې ترې وانخلي. يوه ورځ سلطان يو ناڅاپه په کور ورننوت او هغه غلام يې له کوره راووېست او وزير يې زنداني کړ، تر هغې چې مړ شو.
ابوالفضل سوري يو مهال دربار ته د هرات او نيشاپور له ښارونو څخه په ډاليو بار يو کاروان چې شمېر يې پنځه سوه ته رسېده را ولېږه، چې په دې کې ښکلي چيني لوښي، وربښمين او وړين کالي، ډول ډول مرۍ او مرغلرې،مشک او عنبر او ان غلامان او کنيزې هم وې .
په غزنوي دربار کې عياشي، له وينځو او غلامانو سره ناوړه اړيکې، نڅاوې، او د شرابو څښل، بريدونه او ظلمونه، رټل او وژنې او دېته ورته نور کړه وړه دې کچې ته رسېدلي وه، چې د افغانستان په تاريخ کې لږ ساری لري .
د بيهقي له مخې (۱۴۰... ۲۹۹... ۵۰۰... مخونه) خاتون ارسلان به هرکال له ترکستان نه يوه ښکلې اوښايسته وينځه او غلام د سلطان محمود دربار ته را استول.
يو کال يې دطغرل په نوم غلام ورته راولېږه، دغه غلام نه يوازې ډېر ښکلی وه اوښيار هم وه. يوه ورځ سلطان په باغ فېروزي کې شراب څښل، کله چې اميريوسف د محمود ورور، دغه غلام په سرو وربښمينو جامو کې وليد، نو سترګې يې ترې نه اړولې او سلطان هم دی څاره...نو په پای کې ورته وويل چې دغه غلام مې تا ته وباښه، خو په راتلونکې کې بيا زما غلامانو ته په دغه سترګه و نه ګورې .
د سلطان محمود يو بل غلام «نوشتګين» نومېده، دی دومره ښکلی وه، چې له ده وروسته د ده زامنو محمد او مسعود هم د ده له ښکلا او له نازه ډک چلند نه، خوند اخسته.
يوه ورځ دمسعود سپه سالار «بونعيم» چې يو ځای شراب څښل، نو نوموړي جنرال چې پياله د ده له لاسه واخسته نو له ډېرې مينې د هغه لاس کېکاږه او نوشتګين ورته وويل: شرمېږې نه چې د سلطان غلام ته په بده سترګه ګورې؟ سلطان خپل سپه سالار بندي کړ او د ده ټول شته يې غلام ته وبښل. کله چې «بونعيم» له زندان نه خوشی شو، نو مسعود د شرابو په بنډار کې ده ته وويل، څنګه بيا خو نوشتګين ته په هغه سترګه نه ګورې؟ هغه ورته وويل: هماغه يو کتل مې بس دی .
ابوالفضل وايي مسعود په باغ فيروزي کې، د شرابو په يوه بنډار کې اوه ويشت نيم جامونه شراب وڅښل او د ده نورو درباريانو:

۱ -ابوالحسن پنځه نيم جامونه وڅښل، پر اوم او اتم جام سره چې غلامانو نيولی وه له محفل نه ووت.

۲ -بوالعلاطبيب په پنځم جام بنډار پرېښود.

۳ -خليل داود لس جامونه په سر واړول نوره يې وسه ونه رسېده.

۴ -بونعيم دولس جامه وڅښل او ميدان يې پرېښود.

۵ -خواجه عبدالرزاق چې په شراب څښلو کې خورا مېړنی وه اتلس جامونه يې له ستوني تېر کړل او بيا يې سلطان ته مخ واړوه: ما وبښه چې نور نشم څښلی نه چې بې ادبي را څخه سر ووهي.
امير چې اوه ويشت نيم جامونه څښلي وه بيا هم په ځان ډاډه وه له بنډاره ووت پر فيل سپور شو او خپلې مانۍ ته لاړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د همدې بې باکۍ او بې وسۍ له امله وه چې د سلجوقیانو او ترکمنانو د بریدونو په وړاندې د هېواد په شمال کې څو واري ماته وخوړه.
ولې بیا هم د غزنویانو په کورنۍ کې درویشت تنو چې پیل یې له الپتګین نه شوی وه او پای یې د خسرو ملک په واکمنۍ سره وشو حکومت وکړ .
«د تګین د کورنۍ ۲۳ تنو چې په دې لړ کې یو تن د محمود مریي «طغرل» هم راځي، حکومت کړی دی، چې الپتګین ورپسې د هغه زوی میر اسحق، بلکا تګین، سبکتګین، زوی یې اسمعیل ور پسې محمود یو د بل پسې واکمنۍ ته رسېدلي دي.
ولې د دې کورنۍ وروستی واکمن خسرو ملک وو، چې له ده وروسته په بشپړه توګه د غزني واکمني پایته ورسېده.»(۷)
د دې ټولو څرګندونو سره سره د غزنویانو د واکمنۍ په وخت کې کلتوري هڅې، هنر او ادب، علم او سیاست ډېره وده وکړه.
د دوی په دوه سوه کلن تاریخ او واکمنۍ کې ډېرې ښایسته مانۍ جوړې او ابادې شوې. یو پیاوړی پوځ یې ورغاوه او د شابهار په دښته کې به پرېټ کېده. د پارسي ژبې ډېر نامتو شاعران او لیکوال د ادب ډګر ته را ووتل، چې موږ ابوفضل بیهقي، امیر عنصري، امیر فرخي، او نور یادولی شو، چې دوی د شابهار د دښتې یادونه هم کړې ده .ملي ورځې به په دغه شابهار کې لمانځل کېدې او په څنګ کې د «نغاره خانۍ» په نوم یوه غنډۍ هم شته .
«نغاره غونډۍ د جوړښت له پلوه د شابهار دښتې شمال لوېدیځ لوري ته پرته ده... دغه غونډۍ د پراخې دښتې په مینځ کې ښکاري چې په ټولنیز ډول ښایي دغه ټول ځای ته شابهار دښته ووایو.
دېته د سردار غونډۍ او بت خانه هم ویل کېږي.»( ۸)
د غزني سلطان محمود دغه لویه او پراخه ټولواکمني له هندوستانه نیولې تر ایران او بیا تر ماوراءالنهر پورې د څو لاملونو له کبله لومړی کمزورې شوه او بیا ورورو له مینځه لاړه:

۱ -لومړی د غزنویانو د واکمنو عیاشي، بېباکي او خپل مینځي بې باوري وه، چې د دوی واکمنۍ د ځوړتیا لور ته مخه کړه.

په ځانګړي ډول د سلطان محمود له مرګ نه وروسته سلطان مسعود، په داسې کسانو باور وکړ چې له یوې خوا یې پخواني پلویان له لاسه ورکړل او له بلې خوا د ده نوو دوستانو په چور او چپاول لاس پورې کړ، چې موږ یو شمېر ترکي او ترکمني ډلې د ساري په توګه یادولی شو.

۲ -که څه هم دا تېروتنه په لومړي سر کې پخپله سلطان محمود وکړه، چې د شمالي ترکمنانو یوه ډله سلجوقیان یې چې شمېر یې څلور زره کورنیو ته رسېده د افغانستان له شمال لوېدیځ نه را واخله تر نیشاپوره پورې ځمکه چې ډېر څړ ځایونه یې لرل په واک کې ورکړه. بیا همدغه سلجوقیان ول چې د غزنویانو واکمني یې له ګواښ سره مخ کړه.

۳ -د غزنویانو او غوریانو لومړی د دوستۍ او خېښۍ اړیکې ټینګې شوې او بیا پرته له کوم غور او اند نه داسې څه پېښ شول، چې په پای کې غزنوي ټولواکمني درې وړې شوه.

## سلجوقیان څوک دي؟

په یو شمېر څېړنیزو لیکنو کې سلجوقیان د «سلاطین سلاچقه» په نامه یاد شوي دي. «دی په درې ډلو وېشل کېږي . له لومړنۍ ډلې څخه څوارلس تنو سلطنت کړی دی، چې د ربیع الاول څلورسوه نولس (۴۱۹ هـ) نه پیلېږي او تر ربیع الاول ۵۹۰ هـ پورې دوام مومي. لومړی سلطان طغرل بېګ بن مکایل سلجوقي ۲۶ کاله حکومت وکړ. او سلاچقه د سلچوق جمع دی.«( ۹ )

د ترکي ټبر وګړي چې چېرته استوګن وه، هغه سیمه د ترکستان په نوم یاده شوې ده. ولې کله چې په بېلابېلو سیمو کې ودان شول، نو خپل ټبرنی نوم یې هم له ځانه سره یووړ، نو ځکه خو مو یو مهال د روسي ترکستان، افغاني ترکستان او چیني ترکستان اصطلاح کاروله.
سلجوقیان هم د سیحون او اورال رود د شمالي ترکمنانو یو ټبر دی چې په سر کې بودایان وه او یوه برخه یې د سامانیانو د واک په مهال، د ماوراءالنهر په ځنو سیمو کې مېشت او ودان شول.
«همدا راز ترکمنان د «دقاق» په مشرۍ ماوراءالنهر ته راغلل او په ۹۸۵ د بخارا په «نور» کې استوګن شول.
سلجوق د همدې «دقاق» زوی وه چې د اسلام سپېڅلی دین یې ومانه.»( ۱۰ )
سلجوق بن دقاق (توقاق = یقاق تېمور) څلور زامن لرل چې د اسراییل، مکاییل، یونس او موسی په نومونو یادېدل .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې سلطان محمود د سلجوق یو زوی اسراییل زندان ته واچوو، نو پلویان او د ټبر نور غړي یې د ایران شمال ته کډه شول. وروسته د مکاییل زوی طغرل بېک د خپلو ورنو (داود – چغري) په ملتیا د خپل ټبر وګړي او یو شمېر د سیمې وګړي په ځان را ټول کړل.
نوموړي د غزنویانو له کمزورۍ نه ګټه واخسته. که څه هم د غزنوي محمود د مرګ نه وروسته سلطان مسعود غزنوي، د سلجوقیانو ډېرې کورنۍ بېرته را وبللې او د هېواد په شمال لوېدیځ کې نه یوازې ځای پر ځای کړې بلکې پخپلو سرتېرو کې هم ځای ورکړ. طغرل بېګ او چغرل بېګ په ۱۰۳۸ کال مرو او نیشاپور ونیول او خطبه یې په نوم کړه.
له دې سربېره د دوی ځواکونو کرمان، سیستان، بلخ او ان تر غزني پورې پرمختګ وکړ .
سلجوقیانو د یوه کال په موده کې (۱۰۳۹ کال) د افغانستان ټولې شمالي سیمې یو د بل پسې لاندې کړې او په ۱۰۴۳ کال یې خوارزم هم ونیو، شاه ملک ته یې ماته ورکړه تر هغې چې کرمان کې ومړ .
سلطان طغرل سلجوقي چې کله سلطان مسعود ته ماته ورکړه (۴۳۱ هـ) ورور یې داود سویلي سیمې او همدا ډول له سیستانه تر تخارستانه پورې خپل ځواک ټینګ کړ. طغرل له ساسانیانو نه وروسته لومړی سړی دی چې د ایران سیاسي یووالی یې وساته او هم یې په ۱۰۶۲ کال بغداد ونیو او عباسي خلیفه خپله لور د ده په نوم کړه.
وروسته سلطان مودود غزنوي کوښښ وکړ، چې د سلجوقیانو د پرمختګ مخه ونیسي او په دې تړاو یې خپل وزیر عبدالرزاق بن احمد میمندي سیستان ته ولېږه، خو کوم بریالیتوب یې په برخه (۴۴۰ هـ ۱۰۴۸ ز) نشو. خو دالپ ارسلان زوی ملک شاه بیا له غزنوي سلطان ابراهیم سره روغه وکړه او د کابل شاوخوا ولایتونونه را واخله تر لاهوره پورې سیمې د غزنویانو واک ته پرېښودې.
له سلطان طغرل سلجوقي نه وروسته وراره یې الپ ارسلان (د چغري بېک زوی) واک ته ورسېد او په ۱۰۶۳ کال یې د شرقي روم امپراتور ته یې په ارمنستان کې ماته ورکړه او د هغه لور یې خپل زوی ملکشاه ته په نکاح کړه .
کله چې ملک شاه واک ته ورسېد نو ډېر ژر یې ماوراءالنهر ونیو.
جلال الدین ملکشاه سلجوقي (۴۶۵ – ۴۸۵) د افغانستان نامتو عالم خواجه نظام الدین یې د خپل پلار په څېر د خپل دربار وزیر وټاکه، نوموړی د شافعي مذهب یو ستر عالم ولې متعصب وه. او د شافعي مذهب په خپرولو کې ډېر کوښښ وکړ.
سلطان د همدغه وزیر په سلا خپله ټولواکمني پراخه کړه، چې موږ کوچنۍ اسیا، کاشغر او ان د مینځنۍ اسیا تر پولو پورې سیمې یادولی شو.
«نظام الملک د «سیاست نامی» کتاب هم وکېښ په هرات، اصفهان، بصره او بغداد کې مدرسې هم جوړې کړې. عمر خیام مشهور شاعر او حکیم د جلالي تاریخ تدوین کړ.»( ۱۲ )
له ملک شاه نه وروسته د سلجوقیانو واک کمزوری شو. د ټولواکمنۍ په بېلابېلو برخو کې سلجوقي شهزادګانو په جلا ډول خپلواک دولتونه جوړ کړل .
افغانستان هم په څلورو برخو وېشل شوی وه، د هېواد شمالي سیمې له تخارستان نه را واخله تر مروې پورې د سلطان سنجر پلاس کې وې .
له غور نه نیولې تر بامیانو، هماغسې د جوزجان شاوخوا سیمې د هرات تر پولو پورې د غوریانو تر واک لاندې وې. غزنوي شهزادګانو بیا په هلمند، زابل پخپله غزني، کابلستان ان تر لاهوره پورې واک چلوه.
سلطان سنجر په دې لټه کې وه چې خپل ځان پیاوړی کړي نو ځکه یې خپله خور غزنوي شهزاده ته په نکاح کړه، چې وروسته یې خپل خورایی غزنوي بهرامشاه د غزني په تخت کېنوه .
د سیستان شاوخوا سیمې تر فراه پورې د سیستان ملکانو اداره کولې.
په دغه وخت کې د سلجوقیانو تکړه واکمن سلطان سنجر وه. نوموړي غزنی ونیو او بهرامشاه یې دېته اړ، کړ چې د ده واک ته غاړه کېږدي (۵۳۰ هـ کال). همدا راز غوري علاوالدین حسین ته یې هم ماته ورکړه.
په لومړي جنګ کې خوارزمشاه ته هم ماته ورکړه. ولې د بل ځل لپاره چې کومه جګړه د سیحون په شاوخوا کې پېښه شوه ماته وخوړه.
سلطان سنجر له څلوېښت کالو سلطنت وروسته په ۱۱۵۷ کال ومړ او د ده له مرګ نه وروسته غوریانو د هېواد شمال او شمال لوېدیځې سیمې لاندې کړې، چې په پای کې سلجوقیانو اوغزنویانو ته ماته ورکړه او نه یوازې ټول افغانستان یې ونیو، بلکې د افغانستان په ګاونډ کې هم ځنې هېوادونه ونیول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ